امارت اسلامي افغانستان

ریاست عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء

معاونیت امور روابط عامه و استراتیژیک

ریاست مطالعات و پلانگذاری

محرم
عاجل
عادی

شماره: ۱۲۲۴
تاریخ: ۱۴۴۷/۴/۲
ضمایم:

بسم الله الرحمن الرحیم

د ریاست الوزراء مقام محترم اقتصادي معاونیت ته!

السلام علیکم و رحمت الله و برکاته!

لکه څرنګه چې پوهېږئ، د ریاست الوزراء عالي مقام دفترعمومي ریاست د عامه اوستراتیژیکو اړیکو معاونیت تل هڅه کړې ده، څو د کورنیو او بهرنیو رسینو څارنې له لارې د افغانستان په اړه مهمې پېښې تر پوښښ لاندې راولي.

دا چې د افغانستان په اړه د معتبرو رسنیو او نړیوالو سازمانونو رپوټونه، د ګنو هېوادونو د بهرنیو چارو وزارتونو د ویبپاڼو منځپانګه او په ټولنیزو رسنیو کې د افغانستان لپاره د هېوادونو د ځانګړو استازو فعالیتونه د ا.ا.ا چارواکو ته د معلوماتو برابرولو تر څنګ د تصمیم او دریځ نیولو په برخه کې اسانتیا برابروي. نو په همدې اساس، د عامه او ستراتیژیکو اړیکو معاونیت د دغو رسنیو او د هېوادونو د بهرنیو چارو وزارتونو د ویبپاڼو څارنې له لارې ځانګړی اوونیز بولیټن چمتو کړی چې ستاسو قدرمن حضور ته وړاندې کېږي.

د یادولو وړ ده چې دغه بولیټن به د هرې اوونۍ په پای کې چمتو او عالي‌رتبه مقاماتو حضور ته وړاندې شي. همدارنګه په یاد بولیټن کې تر هر راپور لاندې یو ځانګړی چوکاټ راڅرګند شوی چې په کې به عالي رتبه مقامات د بېلابېلو موضوعاتو په اړه خپل هدایات او حکمونه له مسوولو ادارو سره شریک کړي.

والسلام

قاري عبدالستار سعید

د ریاست الوزراء مقام د دفترعمومي ریاست

د عامه اوستراتیژیکو اړیکو مرستیال

- د ریاست الوزراء مقام اداري معاونیت
- د ریاست الوزراء مقام د دفترعمومي ریاست
- د افغانستان اسلامي امارت د ویاند دفتر

آدرس: ارګ، کابل_افغانستان
ویب سایت: www.ocs.gov.af
شماره تماس: +93202142236